چا چې د دوه وو لورګانو سمه روزنه وکړه تر دې چې لويې شي، نو د قيامت په ورځ به زه اوهغه سره يو ځای يو» او خپلې ګوتې يې سره جوختې کړې

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «چا چې د دوه وو لورګانو سمه روزنه وکړه تر دې چې لويې شي، نو د قيامت په ورځ به زه اوهغه سره يو ځای يو» او خپلې ګوتې يې سره جوختې کړې.

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې: چا ته چې دوه لونې يا خويندې ورپه برخه شي او هغه يې داسې روزنه وکړي چې، لګښت، روزنه، او د خبر لارو ته لارښوونه او له بديو څخه ځان ژغورنه او داسې نور وروښيي تر دې چې سترې شي، نو د قيامت په ورځ به هغه او رسول الله صلى الله عليه وسلم سره لکه د دې دوو ګوتو په څېر يو ځای وي، او خپله مسواک او منځ ګوتې يې سره جوختې کړې.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3360